# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**14سرطان _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د پولنډ لومړي وزير د کډوالۍ ضد کمپاين کې فرانسه کې د احتجاجونو له انځورونو کار اخيستی ---------------------1

ترکيه وايي هغه ۸۴ کډوال يې ژغورلي چې د يوناني ځواکونو له خوا په شا تمبول شوي وو--------------------------2

انګلستان کې د کورونو کمښت؛ '۸۰۰۰ افغانان د بې کوره کېدو خطر سره مخ دي'----------------------------------3


خبرنامه

# متن کامل اخبار.

## د پولنډ لومړي وزير د کډوالۍ ضد کمپاين کې فرانسه کې د احتجاجونو له انځورونو کار اخيستی

د وزارت ويب سایت



د پولنډ لومړي وزير ماتيوز مورېوياتسکي پر خپله ټويټر پاڼه يوه ويډيو خپره کړې چې پکې فرانسه کې د وروستيو احتجاجونو له انځورونو څخه کار اخيستل شوی دی. نوموړی د دې ويډيو په خپرولو سره غواړي وښيي چې په دغو احتجاجونو کې يوازې کډوالو ګډون درلود .

ياده ويډيو کې د هغو ناآراميو انځورونه ليدل کېږي چې تېره اونۍ په فرانسه کې رامنځته شوې وې. دغه انځورونه د وارسا او کارکوف ښارونو له تصويرونو سره پرتله شوي دي چېرې چې خلک له خپلو کورنيو سره په آرامه فضا کې ژوند کوي. دا ويډيو د پولنډ لومړي وزير ماتيوز مورېوياتسکي د جمعې په ورځ (د جون ۳۰مه) پر خپله ټويټر پاڼه خپره کړې ده.

نوموړي پر خپله ټويټر پاڼه ليکلي دي: «زموږ پلان د يوې داسې اروپا [جوړول] دي چې خوندي سرحدونه ولري... دا هغه ارزښتونه دي چې ټول شيان سرچينه ترې اخلي».

د کډوالو د وېشلو پلان

د پولنډ لومړي وزیر د جون پر ۳مه پر خپله تویټر پاڼه یوه بله ویډیو هم خپره کړې او لیکلي یې وو: «لوټ شوي دوکانونه، د پولیسو سوځېدلي موټرونه، په کوڅو کې مورچلونه: د پاریس په مرکز او نورو فرانسوي ښارونو کې داسې حالت روان دی. موږ د پولنډ په سړکونو داسې صحنې نه غواړو. د اروپا په هېڅ ښار کې داسې صحنې نه غواړو. له همدې وجې د اروپايي شورا له هغو پرېکړو څخه دفاع کوو چې په ۲۰۱۸ کې شوې وې، موږ په خپله خوښه د کډوالو د منلو له پرنسیپ څخه دفاع کوو. ناقانونه کډوالي دې ودرول شي. لومړی خوندیتوب».

پولنډ او هنګري هغه هېوادونه دي چې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو ترمنځ د کډوالو له وېشلو سره مخالفت ښيي. د دغه پلان له مخې، ټاکل شوې چې هر کال به شاوخوا ۳۰ زره کډوال د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو ترمنځ ووېشل شي.

په دغه هوکړه لیک کې چې د جون پر ۸مه تصویب شو راغلي دي که چېرې د اروپايي ټولنې یو غړی هېواد خپله سهیمه و نه مني، نو د هر مهاجر پر سر باید اروپايي کمېسیون ته ۲۰ زره یورو ورکړي. دغه مبلغ د هغو پروژو د پلي کولو لپاره کارول کېږي چې له کډوالۍ سره تړاو ولري.

بیا ولولئ :<u>اروپايي هېوادونه د کډوالۍ پالیسۍ کې پر اصلاحاتو راوستو هوکړې ته ورسېدل</u>

د اروپا ۲۷ غړو هېوادونو په غونډه کې چې د پنجشنبې او جمعې په ورځو ترسره شوه هنګري او پولنډ هم ګډون درلود. د اروپايي شورا مشر شارل میشل له غونډې وروسته وویل: «پنځه وېشت هېوادونه چمتو دي چې د [اروپايي هېوادونو ترمنځ د پیوستون] پروسې ملاتړ وکړي، دوو هېوادونو مخالفت وښود».

## ترکیه وايي هغه ۸۴ کډوال یې ژغورلي چې د یونانې ځواکونو له خوا په شا تمبول شوي وو

د وزارت ویب سایت



د ترکيي سمندري ځواکونه وايي چې د چناقلعي شمال لوېديځ ولايت د آيواجيک ښار له ساحلي اوبو څخه يې هغه ۸۴ کډوال ژغورلي دي چې د يوناني ځواکونو له خوا په شا تمبولي وو. ويل کېږي چې ژغورل شوي کسان افغانان دي .

دغه کډوال له هغه وروسته ژغورل شوي چې ترکي چارواکو د چناقلعي ولايت د آيواجيک ښار په اوبو کې د کډوالو د دوو ډلو د شتون په اړه اطلاع ترلاسه کړه. د ترکي رسنيو د خبرونو له مخې، په لومړۍ بېړۍ کې ۳۷ او دويمه بېړۍ کې ۴۷ کسان سپاره ول .

د ترکيي ساحلي خواکونو ادعا کړې دغه کسان چې ويل کېږي افغانان دي او غوښتل يې د يونان اوبو ته د ننه شي، د يوناني خواکونو له خوا په شا تمبول شوي وو. چارواکو زياته کړې ده چې ژغورل شوي کډوال د اخراج سيمه ييزو مرکزونو ته استول شوي دي.

تېر ډسمبر د يونان د ملکي خونديتوب وزير ويلي وو چې په ۲۰۲۲ کې د دغه هېواد سمندري ځواکونو يونان ته د ۲۵۰ زرو کډوالو د ننوتلو مخه ډبه کړې او ۱۲۰۰ انساني قاچاق ورونکي يې نيولي دي.

سازمانونو او رسنيو په تېر وخت کې پر يونان په وار وار تور لګولی چې له ترکيي سره پر پوله يې له مهاجرو سره تاوتريخجن چلن کړی او کډوال يې له خپلې خاورې څخه په شا تمبولي دي. خو يونان تل دا ادعاوې رد کړې دي.

بيا ولولئ :<u>اروپايي ټولنې د يونان له خوا د کډوالو د اخراج په اړه د تحقيقاتو غوښتنه کړې</u>

ترکيه کې د ژغورل شويو کډوالو ناوړه وضعيت

تېر کال د ترکيي ځايي رسنۍ دووار راپور ورکړی و چې د يوناني ځواکونو له خوا په شا تمبول شوي کډوال له سمندره تر ژغورل کېدو وروسته ترکيه کې دننه په نامناسبو توقيف ځايونو کې ساتل کېږي.

دووار چې د ترکيي په ختيځ ولايت ازمير کې يې د کډوالو د يو توقيف ځای په اړه پلټنې کړې وې د يو راپور په خپرولو سره ويلي وو چې کډوال په دغه توقيف ځای کې په سختو او غير انساني شرايطو کې شپې سبا کوي. په دغه راپور کې راغلي وو چې «سلګونه کډوال د واده يو سالون پر بام چې د سيمې د پوليسو قومندانۍ مخې ته موقعيت لري په غيرانساني شرايطو کې ايسار پاتې دي.»

بيا ولولئ :<u>ترکيه: له يونانه په شا تمبول شوي کدواليه نامناسبو توقيف ځايونو کې ساتل کېږي</u>

همدارنګه د ازادۍ لپاره د استکهلم مرکز ويلي وو چې له يونانه په شا تمبول شوي کډوال د ترکيي په توقيف ځايونو کې مدافع وکيلانو ته لاسرسی نه لري او نه شي کولی چې د اخراج په صورت کې د استيناف غوښتنه وکړي.

د دغه سازمان په وينا، «د ترکيي د اساسي قانون پر اساس چارواکي اړ دي چې د دوی د بندي کېدو په لومړيو ۴۸ ساعتونو کې يې د اخراج په هکله پرېکړه وکړي. خو په واقعيت کې بيا دوی هلته دوه اونۍ تېروي. دا د کډوالو له حقونو سرغړونه ده«.

## انګلستان کې د کورونو کمښت؛ '۸۰۰۰ افغانان د بې کوره کېدو خطر سره مخ دي'

بی بی سی

انګلستان کې د محلي حکومت ټولنه (ایل‌جي‌اې) وايي، د کورونو کمښت او د ځای پر ځای کېدو اوږده پروسه ښايي د دغه هېواد هوټلونو کې ۸۰۰۰ مېشت افغانان د بې سرپناه کېدو له خطر سره مخ کړي.

دغه افغانان د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د طالبانو له بیا واکمنېدو را وروسته له افغانستانه ایستل شوي دي.

د محلي حکومت ټولنه، چې د انګلستان ۳۱۷ شوراګانې یې غړیتوب لري، په یوه بیان کې وايي، د بریتانیا کورنیو چارو وزارت دغو افغانانو ته ویلي چې د را روانې اګست میاشتې تر پایه د خپلې لنډمهالې استوګنې هوټلونه پرېږدي.

په اعلامیه کې راغلي، چې دغو افغانانو ته د هغه ملاتړ مالومات ورکړ شوي، چې له هوټلونو تر وتلو وروسته ترې برخمنېږي.

خو ایل‌جي‌اې خبرداری ورکړی چې د هېواد په کچه د کورونو کمښت او له هوټلونو وتلو لپاره ټاکلي لنډ وخت محلي شوراګانو ته دغو افغانانو لپاره د استوګنځیو موندل ستونزمن کړي دي.

د محلي حکومت ټولني دا خبرداری داسې مهال ورکړی چې سې شنبه په بورنموت ښار کې خپل کلنی کنفرانس جوړوي.

ایل‌جي‌اې د دغه کنفرانس په درشل کې پر حکومت غږ کړی چې له شوراګانو سره خپله ښکېلتیا ښه او هغه پیچلتیاوې درک کړي، چې دوی ورسره مخامخ دي.

ټاکلې د دغې ټولنې مشر شان ډېویس دغه کنفرانس ته وواېي چې "شوراګانې په انګلستان کې د پناه غوښتونکو او کډوالو د مېشتولو او د دوی د ژوند بیارغونې لپاره د ګام پورته کولو او ملاتړ ویاړلې تاریخ لري. خو د حکومت لخوا پر شوراګانو باندې د پناه غوښتنې او بیا مېشتېدنې د پروګرامونو ګډ فشارونه مخ په ډېرېدو دي."

په تېره مې میاشت کې ویل شوي وو چې شوراګانې به د حکومت په تمویل هوټلونو کې د مېشتو پناه غوښتونکو ملاتړ او احتمالي بې سرپناه کېدو ته د رسېدنې لپاره له حکومته ۳۵ میلیون پونډ ترلاسه کړي.

په یوه بله ورته بودیجه کې دغو شوراګانو لپاره ۲۵۰ میلیون نور پونډ ځانګړي شوي وو چې افغان پناه غوښتونکو ته استوګنځایونه پیدا کړي.

د بریتانیا کورنیو چارو وزارت د دغو بودیجو د اعلان پر مهال ویلي وو چې هوټلونه د کډوالو "د اوږدمهاله اوسېدو لپاره مناسب نه دي."

د رسمي شمېرو له مخې په هوټلونو کې د کډوالو ساتل هره ورځ د بریتانیا حکومت ته په شپږ میلیونو پونډو تمامېږي.

له هوټلونو نه د کډوالو د ایستلو لوی لامل همدا لوړ لګښت په ګوته کیږي.

د یادونې ده چې له افغانستانه ایستل شویو ۱۲ زرو افغان کډوالو ته وار د مخه د بریتانیا په بېلابېلو سیمو کې د اوسېدو کورونه ورکړ شوي دي.

د عکس سرچینه، **Getty Images**

ټاکلې د محلي حکومت ټولنه د سې شنبې ورځې کنفرانس کې له هغو اوکراییناو سره ملاتړ لپاره د بودیجې موضوع هم راپورته کړي، چې د روسیې له یرغل وروسته له خپل هېواده وتلي او بریتانیا ته یې پناه وړې ده.

دغه کنفرانس کې به پر محلي خدماتو د ناقانونه کډوالو د ورتګ پر اغېزو هم بحث وشي، چې ویل کېږي شمېر یې په چټکۍ سره مخ په لوړېدو دی.

د بریتانیا حکومت پلان لري چې د انګلیس کانال له لارې دغه هېواد ته اوښتونکي ناقانونه کډوال روندا ته واستوي.

په دې تړاو له روندا سره یوه هوکړه هم شوې، خو د بریتانیا استیناف یوې محکمې تېره اوونۍ دغه پلان ناقانونه وباله.

د بریتانیا حکومت وایي، دا ګام د انساني قاچاق د مخنیوي په موخه اخلي، او دا چې د استیناف محکمې د پرېکړې خلاف به سترې محکمې ته عرض وکړي.